# څوک چې د دنيوي غرض لپاره علم زده کړي، حال دا چې زده کړه يوازې د الله تعالى د خوښۍ لپاره کېږي، نو د قيامت په ورځ به د جنت بوي ونه مومي

له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «څوک چې د دنيوي غرض لپاره علم زده کړي، حال دا چې زده کړه يوازې د الله تعالى د خوښۍ لپاره کېږي، نو د قيامت په ورځ به د جنت بوي ونه مومي».

[صحيح دی] [ابو داود ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

نبي صلى الله عليه وسلم بيانوي چې څوک د ديني علم زده کړه وکړي، چې په اصل کې د الله تعالى د رضا لپاره کېږي، خو دی يې يوازې د دې لپاره زده کوي چې يو څه دنيوي برخه او ګټه پرې تر لاسه کړي؛ مال يا مقام، نو د قيامت په ورځ به د جنت بوي هم ونه مومي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6262